بسم الله الرحمن الرحيم

## د حزب التحرير پر وړاندې په جګړه کې؛ روسیې د ازبکستان لاره نیولې ده

## (ژباړه)

(حفیظ اسګات) ته له حزب التحریر سره د یو ځای کېدو او اسلام ته د دعوت په خاطر ۱۰ کاله نوره نه بښونکې جزا ورکړل شوه، چې ټوله ۱۹ کاله کېږي. د ۲۰۲۱م، د اګیسټ په پینځمه د روسیې مرکزي پوځي محکمې د حزب التحریر یو غړی «حفیظ اسګات» ته جزا اعلان کړه. نوموړي ته دغه جزا د جزا کود د دویمې برخې د ۲۰۵,۵ او د لومړۍ برخې د ۲۰۵,۱ مادو پر اساس او په حزب التحریر کې د ګډون او فعالیت له امله ورکړل شوه.

تر ۱۳ کلونو پورې چې هغه د پرېښودو پرېکړه کړې وه، محکمې نوموړي ته ۱۰ کاله نوره جزا هم ورکړه. په ټوله کې له مخکنۍ جزا سره د روسیې قضایي سیستم نوموړي ته د ۲۹ کلونو بند سزا ورکړه، چې هغه شپږ کلونه تېرې کړي هم دي. پر همدغه اساس، روسیې د ازبکستان د ځانګړو خدمتونو تجربې ترسره کوي او د حزب التحریر یو بل غړی یې هم نیولی دی.

پر دې سربېره، پوځي محکمې د هغه د نیولو رژیم سخت کړ. له سخت رژیم څخه ځانګړي رژیم ته. نوموړی به په زندان کې پر ۲۳ کلونو تېرېدو سربېره، درې نور کلونه په بند کې تېروي. کېدای شي حفیظ د ۲۰۴۳م، د اګیسټ پر ۱۷مه له بنده ازاد شي.

د یادونې ده چې حفیظ د روسیې د جزا کود د لومړۍ برخې ۲۰۵,۵ مادې او د دویمې برخې د ۲۸۲,۲ مادې پر اساس د ۲۰۱۴م، د اګیسټ په ۱۴مه د هغوی په وینا چې د یو ترهګریز او افراطي سازمان د فعالیت او غړي په تور نیول شوی و. نوموړی د ۲۰۱۷م، د اګیست په ۱۲مه د «پرایویلز سکای» پوځي محکمې او ظالم رژیم له لوري په ۱۹ کاله او دوو میاشتو بند محکوم شو.

دا له لومړۍ څخه ډېره لېرې او د روسیې د ظالم او ځپونکي حکومت لومړنۍ غیرقانوني قضیه نه ده، چې د محکمې، څېړونکو او ځانګړو خدمتونو له لوري وړاندې شوې ده، بلکې تر دې وړاندې هم ورته قضیې پېښې شوې دي.

دا په ۲۰۱۷ م، کې لومړی ازموینه وه. د «راینت ګلیولاین» په نوم د حزب التحریر د یوه غړي جرمي قضیه چې پینځه کاله یې په زندان کې تېرل کړل، د ۲۰۱۸ م، د جولای په ۲۸مه د «سارټاو» په سیمه کې له درېیم امن روغتون څخه خوشي شوی و. هغه د «فې. اس. بي» له خوا د خپلې مېرمنې او ۱۰ کلنې لور د سترګو پر وړاندې ونیول شو.

نوموړي ته د جزا کود د دویمې برخې ۲۰۵,۵ مادې له مخې قضیه پرانیستل شوې ده (د ترهګریز سازمان په فعالیتونو کې ګډون کول) هغه پرېکړه چې د «ګالیولایون» ته یې یاده قضیه جوړه کړې او له بندیانو سره په انفرادي او ټولیز ډول خبرې اترې شوې دي، ښایي نوموړي هغوی د حزب التحریر په فعالیتونو کې شامل کړي دي.

پر همدغه اساس، د روسیې چارواکي غواړي چې د دغه سازمان د غړو فعالیتونه د وېرې او بند په واسطه شنډ کړي، ځکه دوی پوهېږي چې دغه حزب له هېڅ ترهګریزې ډلې سره اړیکه نه لري.

په ډېره کچه وکیلان د بشري حقونو فعالان، ژورنالېستان او سیاستوال دې ته متوجې کېږي، چې د حزب التحریر د فعالیت بندېدل له یوې سیاسي پرېکړې پرته بل څه نه دي. په ۲۰۰۳ م، کې د روسیې سترې محکمې پرېکړه وکړه، چې دغه حزب د ترهګریز سازمان په توګه وپېژني. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿**يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ**﴾ [الصف: ۸مه]

***ژباړه:*** *دوی د خولو په پوکیو سره د الله تعالی د رڼا مړه کول غواړي او د الله تعالی پرېکړه دا ده، چې خپله رڼا بشپړه خوره کړي، که څه هم د کافرانو خوښه نه وي.*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**لیکوال: شیخ تدین عبدالله**

**ژباړن: بهیر «ویاړ»**

**۱۴۴۳هـ.ق، د محرم ۹مه**

**۲۰۲۱م، د اګیسټ ۱۷مه**